# د رضاکار

# لاسی کتاب



## د پری سکول پروګرام

PWCS

د پرنس ویلیم د پری سکول پروګرامونه
P.O .Box 389
Manassas, VA 20108
(703) 791-8708
**PreKPrograms@pwcs.edu**

د رضاکار د روزنې ویډیو

# د محتوی فهرست

**ښه راغلاست ........ 2**
**د رضاکار د مسولیت فورم ........ 3**
**د رضاکار پالیسی........ 4**
ټلیفونونه........ 4
ماشومانو سره ناوړه چلند او غفلت........ 4
ارتباط/اړیکه........ 4
محرمیت ........ 4
د شخصی ګټو تضاد........ 4
د جامو اغوستلو کوډ ........ 5
روغتیا او امنیت ........ 5
ساعتونه ........ 5
خواړه ........ 5
نور ماشومان ........ 5
د ښکیلتیا نوری لاری چاری ........ 6
انځورونه یا ویډیوګانی ........ 6
د رضاکارا د ساعتونو ریکارډ ساتل........ 6
ټرانسپورټ ........ 7
**څرنګ کولی شو په ټولګی کې مرسته وکړو........ 8**
ښوونځی ته را راسیدل........ 8
د سهار جوړ پخیر/سترړی مشی........ 8
د دایری وخت ........ 8
د لاسونو پریمنځل........ 8
د خواړو وخت........ 9
لوست ........ 9
د غاښونو برس کول ........ 10
لوی ګروپی فعالیتونه........ 10
کوچنی ګروپی فعالیتونه........ 10
د زده کړی مرکزونه........ 10
انفرادی زده کړه........ 13
**ځانګړی پاملرنی ........ 14**

## ښه راغلاست

ګرانو کورنیو،

مونږ په دی خبر تر لاسه کولو خوښ یو چې تاسو د خپل ماشوم په ټولګی کې د رضاکار په توګه کار کولو سره علاقه لرئ. څیړنې په ډاګه کوي چې په ښوونځیو کې د والدینو ښکیلتیا د زده کوونکو د ښه چلند، لوړ اکاډمیکی لاسته راوړنو او د پراخه ټولنیزو مهارتونو سره نږدې تړاو لری.

ستاسو ملاتړ او ښکیلتیا د وړکتون پروګرام لپاره د بودیجې په تر لاسه کولو کې هم مرسته کوی. د پرنس ویلیم کاونټی عامه ښوونځی د فدرال یا مرکزی حکومت او د ایالت څخه بودیجی ترلاسه کوی ترڅو کورنیو ته د پری سکول پروګرام فرصتونه برابر کړی. د فدرال د مالیاتو څخه د ترلاسه کیدونکی پیسو پنځه ویش سلنه (25٪) پیسو سره باید د خیریه خدماتو، اسانتیاوو او د رضاکارانه کاری ساعتونو لا لاری د ترلاسه کیدونکی پیسو مقدار مطابقت ولري. **نو، په رضاکارانه شکل د دندی تر سره کولو لپاره چی تاسو هر یو ساعت تیروئ، هغه ارزښت لري یا حسابیږي!**

دا لاسی کتاب په دی اړه معلومات وړاندی کوي چی څرنګ باید په ټولګی مرسته وکړئ او د رضاکار د پالیسو په اړه معلومات وړاندی کوي. والدین، سرپرستان یا نور باوری بالغ کسان چې عمر یې 18 کاله یا زیات وی او نوم یی د پری سکول ماشوم په بیړنی حالت کی د اړیکه ټینګولو په کارت کی شتون ولري، کولی شي رضاکارانه دنده تر سره کړي. د ټولنې غړی هم کولی شی چی د رضاکار په توګه دنده تر سره کړي او د لا زیاتو معلوماتو لپاره باید د پری سکول دفتر سره اړیکه ټینګه کړي.

**هغه کسان چې د رضاکار په توګه دنده تر سره کولو سره علاقه لري، باید لاسی کتاب مطالعه کړي او د رضاکار د مسئولیت فورم لاسلیک کړي.** کله چې بشپړ شی، د رضاکارانه دندی لپاره د پلان په اړه د خبری کولو لپاره د خپل ماشوم ښوونکی سره اړیکه ټینګه کړئ. زده کوونکو ته د وخت ورکولو په موخه ترڅو د ټولګی معمول سره اشنا شی، رضاکارانه چاری معمولا د ښوونځی په لومړنی میاشت کې نه ترسره کیږی.

په دی هیله چې دا معلومات له تاسو سره په ټولګی کې د وخت تیرولو په موخه په بریالیتوب تر لاسه کولو کې مرسته وکړی. که تاسو کومی پوښتنی لرئ، مهرباني وکړئ د خپل ماشوم ښوونکي سره خبری وکړئ.

مننه،

د پری سکول پروګرام

# د رضاکار د مسؤلیت فورم

د ټولګی د رضاکار رول دا دی چې د ښوونځی کارکوونکو سره په ګډه د ماشومانو لپاره د یو خوندي، هوساینې او تعلیمي چاپیریال په برابرولو کې مرسته وکړي. له رضاکارانو څخه تمه کیږی چې د رضاکار د PWCS مقرراتو او هغه مقررات چې د رضاکار لاسی کتاب یا لاربںود کې ذکر شوی دی، سره په مطابقت چاری تر سره کړي. **رضاکاران باید مسلکی رفتار وکړي، مسلکی جامی واغوندي او ټولنیز چلند ښکاره کړي او لاندې مقرراتو ته غاړه کیږدی:**

**د رضاکار مقررات:**

- د پری سکول پروګرام یو ټول شموله چاپیریال دی. له رضاکارانو څخه تمه کیږی چې د زده کوونکو او کارکوونکو کلتور، شجرو او انفرادي اړتیاوو ته درناوی وکړی.
- د رضاکارانو عمر باید 18 کاله وي.
- د رضاکارانو نومونه باید د ماشومانو د پری سکول د بیړنی حالت په وخت کی د اړیکو نیولو په لیسټ کې شتون ولری یا د پری سکول د دفتر او ښوونځی څخه له مخکی څخه منظوری واخلی.
- رضاکاران باید د رضاکارانه چاری ترسره کولو په وخت کی د ښوونځی دفتر ته د منلو وړ پیژند پاڼه وړاندی کړي.
- رضاکاران اجازه نلری چې له ځانه سره ټولګی ته نور ماشومان راولی.
- رضاکاران باید صحتمند وي او د هر ډول ساری ناروغیو څخه پاک وی. د رضاکارانه چارو پیل کولو څخه وړاندی به ورڅخه د نری رنځ یا توبرکلوز منفی پایلی یا معاینات غوښتل کیږی.
- د ټولګی د کارکوونکو یا زده کوونکو په اړه معلومات محرم ګڼل کیږی او ورسره ممکن شریک نه کړل شی.
- د رضاکارانو د ماشومانو پرته د نورو ماشومانو انځورونه اخیستل یا ویډیوګانې جوړل منع دی.
- رضاکاران باید په ټولګی کې او د ساحوی سفرونو پر مهال د ګرځنده ټلیفونونو له کارولو څخه ډډه وکړی.
- ټول ښوونځی یا د ښوونځی فعالیتونه د سګریټو، الکول، نشه یی توکو او د وسلو څخه پاک دی.
- رضاکاران باید له ماشومانو سره یوازې نه وی او د ماشومان سره باید تشناب ته تګ راتګ ونه کړي.
- د ټولګی نظم ساتل د ښوونکی مسؤلیت دی. ماشومان باید هیڅکله هم ټیل نه وهل شی، ونه وهل شی، ټکان ورنکړل شي، یا پری چیغې ونه ووهل شی. رضاکاران باید ښوونکو ته خبر ورکړی که چیرته د کوم ماشوم د چلند په اړه اندیښنه لری.
- هغه کسان چې په اونۍ کې 15 ساعته یا زیات رضاکارانه چاری تر سره کوي، اړ دی چې د رضاکارانو لپاره د PWCS د بشری سرچینو پروسه بشپړه کړی.

**ځانګړې پاملرنی:**

- رضاکاران هڅول کیږی چې مخکې له دې چې د رضاکار په توګه چاری پیل کړي، باید په ټولګی کې د ټولو ماشومانو سره د مرستی کولو رول په اړه خپل ماشوم ته تشریح ورکړي.
- د خواړو په وخت کې زده کوونکی هڅول کیږی چې خواړه امتحان کړی یا وخوري مګر د خوړولو لپاره پری فشار نه اچول کیږی. د نظم راوستلو په موخه باید هیڅ کله هم د خواړو مخنیوي ونشي.
- رضاکاران کولی شي چې د ټولګی سره یوځای خواړه وخوری؛ خو بیا هم، هغوي باید د ښوونځی له کفټریا څخه خواړه په پیسو واخلی یا له ځانه سره د کور څخه خواړه راوړی. خواړه باید له ماشومانو سره شریک نه شی (د رضاکار د خپل ماشوم په شمول).

لاندې ځای کی په لاسلیک کولو سره، تاسو هوکړه کوئ چې تاسو د رضاکار لپاره د PWCS پالیسی، پورته ذکر شوي مقررات، او هغه مقررات چې د رضاکار لپاره په لاسی کتاب یا لاربںود کې ذکر شوی دی، خپلوئ او منئ.

تاسو دا هوکړه هم کوئ چې تاسو به د پری سکول دفتر ته د نری رنځ منفی معایناتو ثبوت هم وړاندې کړئ. د کورنیو د خدمتونو کارکوونکی به د مرستې لپاره حوالی هم وړاندی کړي، که اړتیا ورته پیښه شي.

د مقرراتو سره سم عمل نه کول به د رضاکار په توګه ستاسو چاری پرمخ وړل اغیزمنی کړي.

**نوم (ولیکئ):**____________________ **د ماشوم ښوونځی:**________________

**لاسلیک:**____________________ **نیټه:**________________

# د رضاکار پالیسی

## ګرځنده ټلیفونونه

رضاکاران باید د رضاکارانه چارو په وخت کې ګرځنده ټلیفونونه یا نور شخصي وسائل ونه کاروي. په دې کې د ډوډۍ خوړولو، تفریح یا ساحوي سفرونو وختونه هم شامل دي.

## ماشومانو سره ناوړه چلند او غفلت

د ټولګي د رضاکار رول دا دی چې د ښوونځي کارکوونکو سره د ماشومانو لپاره د یو خوندي، هوساینې او تعلیمي چاپیریال په برابرولو کې مرسته وکړي. رضاکاران د ماشومانو سره یوازې نه پرېښودل کیږي او د ټولګي نظم ساتل او برابرول د ښوونکي مسؤلیت دی. ماشومان باید هیڅکله هم ټېل نه وهل شي، ونه وهل شي، ټکان ورنکړل شي، یا پرې چیغې ونه ووهل شي. رضاکاران باید ښوونکو ته خبر ورکړي که چیرته د کوم ماشوم د چلند په اړه اندیښنه لري.

رضاکاران اړ دي چې د ماشومانو سره د شک وړ ناوړه چلند یا د غفلت د پیښو په اړه د ښوونځي چارواکو ته راپور ورکړي. هغوي باید د زده کوونکو یا کارکوونکو د غیر قانوني یا نامناسب چلند په اړه هم د ښوونځي چارواکو ته راپور ورکړي.

رضاکاران باید د ماشومانو سره د ناوړه چلند کولو یا د ماشومانو څخه د غفلت په جرم یا سرغړونې باندې نه وي محکوم.

## ارتباط/اړیکه

د زده کوونکو، کارکوونکو، د ټولنې غړو، یا نورو والدینو سره ټولې اړیکې باید په مسلکي ډول وي. رضاکاران باید په تحریري، شفاهي او غیر لفظي خبرو اترو کې د ناوړه ژبې یا ناوړه الفاظو د کارولو څخه ډډه وکړي. له رضاکارانو څخه هم تمه کیږي چې د زده کوونکو او کارکوونکو کلتورونو، شجرو او انفرادي اړتیاوو ته درناوی ولري.

کله چې د زده کوونکو سره خبرې کوئ، دا اړینه ده چې د څیزونو په اړه مثبتې خبرې وکړي. دا کار له ماشوم سره په دې پوهیدو کې مرسته کوي چې تاسو ورڅخه غواړئ چې هغه یې باید تر سره کړي، پر ځای د دې چې د څیزونو په منفي اړخونو تمرکز وکړئ. دلته یو څو بېلګې دي:

"مهرباني وکړئ قدم واخلې" پرځای د دې چې وویاست "منډې مه وهی."
"مهرباني وکړئ ورو خبرې وکړئ" پر ځای د دې چې وویاست "چیغې مه ووهئ."

د ماشومانو سره د خبرو کولو پر مهال د ټیټ او ډاډه غږ کارول ډیر اړین دي. ماشومان ستاسو چلند یا خوی خصلت کاپي کوي.

## محرمیت

هغه معلومات چې په ښوونځي کې د زده کوونکو، کارکوونکو یا نورو سره د خبرې اترو کولو په ترس کې ذکر کیږي، محرم ګڼل کیږي او باید په ښوونځي کې یا له ښوونځي څخه بهر په خبرو اترو کې ذکر نه شي. زده کوونکي او کورنۍ حق لري چې دا تمه ولري چې د هغوی د ماشوم اړتیاوې، چلند، د ټولګي لاسته راوړنې، یا نورې ځانګړتیاوې به د ګونګوسو یا بې اساسه خبرو اترو موضوع نه وي.

## د شخصي ګټو تضاد

رضاکاران نشي کولای چې د PWCS زده کوونکي، کارکوونکي، یا والدین وهڅوي، پرې فشار راوړي، ورته ووایي، یا اړ کړي چې په کوم بیروني پروګرام یا غونډه کې ګډون وکړي.

### د جامو اغوستلو کوډ/اصول

رضاکاران باید د بندو بوټانو سره راحته او مسلکي جامې واغوندی. دا ډاډ دی رامینځته کړئ چې جامې ډیری نری، لنډې یا تنګی نه دی، ځکه چې رضاکاران او د ښوونځی کارکوونکی ډیری وختونه کډا یا نڅا کوی، ناست وي، منډې او ټوپونه وهی او د زده کوونکو سره لوبې کوي. د ورځې په اوږدو کې، د رضاکارانو جامې ممکن په اوبو، رنګ یا خاورو ککړی شي. لباس یا جامو باندی باید هیڅ ډول غیر شرعي، تلقیني، یا زیان رسونکی انځورونه یا محتویات شتون ونلری.

### روغتیا او امنیت

له رضاکارانو څخه غوښتل کیږي چې د رضاکارانه چارو پیل کولو څخه وړاندی د ښوونځي دفتر ته د منفي نري رنځ معایناتو یا سکرینینګ (چې په تیر یو کال کې دننه تر سره شوي اوسی) ثبوت وړاندې کړي.

رضاکاران باید ځان پوه کړي چې د خوندیتوب د معلوماتو تر لاسه کولو او وسائلو ځائ چیرته دی. له طبی پلوه د بیرنی کړنلارو په اړه معلومات د روغتیا اعلاناتو په برخه کی پوسټ شوي دي. د ټولګی ټلیفون، د بیړنی حالت ټلیفون شمېرو، او د ټولګی څخه د وتلو لاری په اړه معلومات خروجی دروازی سره نږی لګول شوي دي.

د ټولګی کارکوونکی تل د زده کوونکو شمیر برابر ساتی. د ټولګی "خوندی شمېره" یا د بیړنی حالت شمیره د ټولګی دروازې سره یا په ټولګی کی مخامخ لیکل شوي وي. رضاکاران د ټولو زده کوونکو د پوره کیدو ډاډ رامینځته کولو کې مرسته کوی که هغوی په ټولګی کی دننه، بهر یا د یو ټولګي څخه بل ټولګي ته د بدلیدو په وخت کی وي. د شمیرنې په پروسه کې د ماشومانو شاملول هڅول کیږی، ځکه چې دا کار د ټول ښوونځی ورځی په اوږدو کی تر سره کیږي.

ټول ښوونځی یا د ښوونځی فعالیتونه د سګریټو، الکول، نشه یی توکو او د وسلو څخه پاک دی.

### ساعتونه:

رضاکاران باید له ښوونکی سره خبری وکړي تر څو دا معلومه کړی چې په ټولګي کی د رضاکارانه چارو تر سره کولو لپاره کومی ورځې او وختونه مناسب دی. ښوونکی ممکن داسی ځانګړې ورځې یا وختونه ولری چې رضاکارانو ته پکی ډیره اړتیا وی یا کله چې پکی رضاکارانو ته اجازه نه ورکول کیږی. ښوونکي به هر ډول کوښښ کوي چې د رضاکارانو د مهالوش سره په مطابق هره ورځ او هر وخت هغوی تا اسانتیاوي برابری کړي. رضاکارانو ته هر وخت ښه راغلاست ویل کیږی حتی که هغوي یوازې د دیرش دقیقو لپاره هم چاری تر سره کول غواړي.

**هغه رضاکاران چې په اونی کې 15 ساعته یا زیات رضاکارانه چاری تر سره کوي، اړ دی چې د رضاکارانو او اداری کارکوونکو لپاره د PWCS د بشری سرچینو پروسه بشپړه کړی.** په دې پروسه کې د آنلاین غوښتنلیک بشپړول، د سفارش کوونکو لیکونه سپارل، آنلاین لارښوونه یا معلومات بشپړول، او د پخوانی وخت امنیتی څار یا (بیک ګراونډ چیک) تر سره کولو سره موافقه کول شامل دی.

### خواړه

رضاکاران کولی شی چې د خواړه خوړولو په وخت کې د ماشومانو سره یو ځائ ډوډئ وخوری. خواړه باید د ښوونځی له کفټریا څخه په پیسو واخیستل شی یا د کور څخه هم خواړه راوړل کیدی شی. **د خپل ماشوم په ګډون له ټولګی یا نورو ماشومانو سره د هیڅ ډول خواړ شریکولو ته اجازه نشته.**

### نور ماشومان

**رضاکاران اجازه نلری چې نور ماشومان (کوچنی یا لوی) له خانه سره راوړی.** ځینی وختونه ممکن داسی پیښي یا پروګرامونه رامینځته شي چې پکی کورنیو ته د ټولګی څخه لیدنی لپاره بلنه ورکړل شي. د دې ځانګړو پیښو یا پروګرامونو په اړه له ښوونکی څخه معلومات وکړئ او دا چې آیا نور ماشومان کولی شي چې له تاسو سره راشي او که څرنګ. د دغه ډول پیښو یا پروګرامونو بیلګي دا دي، لکه آزاده بلنه، د شپی لخوا بیرته ښوونځی ته د راستنیدو پروګرام، یا د ټولګی ننداره.

### د ښکیل کیدو لپاره نورې لارې چارې

مونږ پوهیږو چې ډیری والدین غواړی چې په ښوونځی کې رضاکارانه چاری تر سره کړي، مګر د ماشومانو د پاملرنې، دندی یا نورو مسؤلیتونو له امله ممکن ونشي کولئ. د خپل ماشوم په زده کړو کې ښکیل کیدل یوازې په ښوونځی کې د رضاکارانه چاری تر سره کولو په معنی نه دي! د لاندی کارونو په تر سره کولو سره، ښکیلتیا په کور کې پیل کیږی:

- هغه خبرې چې تاسو یې له خپل ماشوم سره د هغوی د ښوونځی ورځې د تیرولو په اړه کوئ
- د خپل ماشوم د زده کړې څخه په کور کې ملاتړ کول
- خپل ماشوم ته کتاب لوستل
- خپل ماشوم سره لوبې کول
- قدم وهل یا د لوبو کولو ځائ ته تلل
- دا ډاډ رامینځته کول چې ماشومان هره ورځ ښوونځی ته ځی پرته له دی که ناروغه وي
- په هغو ورځو کی د ډاکټر سره وخت نیول چې ښوونځی تړلی وي
- په هغو وختونو کی د چکر مهالویش کولو ډاډ رامینځته کول چې ښوونځی تړلی وي
- د والدینو/ ښوونکی تر مینځ کنفرانس (خبرو اترو) کی ګډون کول

هغه کسان چې غواړی رضاکارانه چاری تر سره کړي مګر نشی کولی په ټولګی کی چاری تر سره کړي، باید ښوونکی سره له نورو لارو چارو د رضاکارانه کارونو تر سره کولو په اړه خبری وکړي. رضاکاران کولی شی په کور کې د توکو په چمتو کولو کې مرسته وکړی لکه د نومونو یا د اعلاناتو بورډ مواد برابرول. نورې لارې چارې چې والدین یې له کور څخه رضاکارانه کارونه تر سره کولو لپاره په نظر کی نیولی شي، پکی لاندی شامل دي:

- ماشومانو یا ټولګی لپاره د کیسې په لوستلو سره د خپل ځان ویډیو ثبت کړئ، چې د کیسې ویلو په وخت کې ورسره شریک شی.
- په ټولګی کې شریکولو لپاره ښوونکی ته یو ویډیو واستوئ چې پکی ستاسو ماشوم یو مشخص مهارت بشپړوی په کوم باندی چې ټولګی کار کوی (لکه د غاښونو برس کول)
- د موسیقی د آلی غږولو د خپل ځان ویډیو ثبت کړئ، تر څو د دایری یا د آرام کولو په وخت کې د ټولګی سره شریک شی.
- د ټولګی فعالیت لپاره مواد عطیه کړئ

### انځورونه یا ویډیوګانې

**په شخصی وسائلو کې د رضاکار د خپل ماشوم پرته د نورو ماشومانو انځورونه یا ویدیوګانې لرل یا اخیستل منع دی.** د رضاکارانو د دندو د برخې په توګه، ښوونکی ممکن له رضاکارانو څخه وغواړی چې د ټولګی یا د فعالیتونو انځورونه واخلی. دا کار به تل د ټولګی د آلی یا وسیلی سره تر سره کیږي.

### د رضاکار د ساعتونو ریکارډ ساتل

په عمومی دفتر کې د لاسلیک کولو او د منلو وړ پیژند پاڼی ښکاره کولو وروسته، رضاکاران کولی شی د پری سکول ټولګي ته لاړ شی. په ټولګی کې، رضاکاران د "ملاقات کوونکو د نومونو" رسولو په پاڼه کې خپل د راتګ او بیرته تګ وخت لیکی:

1. نیټه
2. د رضاکار نوم او د هغوي د پری سکول ماشوم نوم
3. د رضاکارانه چارو د تر سره کولو وخت (د داخلیدو او بیرته وتلو وخت)

هره میاشت ښوونکی معلومات ګوری او د پری سکول دفتر ته یې د ثبتولو لپاره استوی. په وړاندیز کولو سره، د رضاکار د تر سره کړل شوي ساعتونو چاپ شوي پاڼه شتون لري.

## ټرانسپورټ

د پری سکول د ماشومانو والدین چې ټرانسپورت نه لری، کولی شی د خپل ماشوم سره د ښوونځی په بس کې تګ راتګ وکړي. دا کار د بس اجازه کارت ته اړتیا لری، کوم چې باید د کورنی د خدمتونو کارکوونکی څخه وغوښتل شی.

مخکې له دې چې د بس پاس یا اجازه کارت ورکړل شی، والدین باید د ښوونځی دفتر ته لاړ شي او د پروسس لپاره د منلو وړ انځور لرونکی پیژند پاڼه وسپاري. د کورنۍ د خدمتونو کارکوونکی کولی شی چی د دې پروسې د بشپړولو لپاره ښوونځی ته د تګ او کور ته بیرته تګ لپاره د ټرانسپورت برابرولو په برخه کې مرسته وکړی او بیا به والدینو ته د بس پاس یا اجازه کارت ورکړی.

د بس پاسونه یوازې والدینو یا سرپرستانو ته ورکول کیږی، بل چاته د انتقال وړ نه دی، او یوازې تر هغه وخت پوری اعتبار لری تر کومه چې ستاسو ماشوم په پری سکول کې وی.

# څرنګ کولی شو په ټولګی کې مرسته وکړو

رضاکاران د ټولګی ډلی یوه اړینه برخه ده چې په درسونو، فعالیتونو او د زده کوونکو د نظارت په برخه کې مرسته کوی. رضاکاران کولی شی چې د ورځې په بهیر کې د یو زده کوونکی یا د زده کوونکو ډلې سره کار وکړی. رضاکاران له ټولګی سره یوځای کیږی او د ښوونکی یا د ښوونکی د مرستیال لارښوونه تعقیبوی.

لاندې تجویزونه وګورئ او د هغو لارو چارو په اړه فکر وکړئ چې د مرستی کولو په موخه ورسره تاسو راحت یاست. د ښوونکی سره د هغو فعالیتونو په اړه خبرې وکړئ چې تاسو پکی غواړئ ډیره مرسته وکړئ او که چیرته داسې کوم فعالیتونه وي چې تاسو ورسره راحت نه یاست، هغوی ته یې په اړه خبر ورکړئ. هر څوک نه غواړی چې د زده کوونکو سره په ګډه مطالعه وکړی، د موسیقی او حرکت کولو په وخت کی نڅا یا ګډا وکړی، یا د لوبی په ډګر کې مرسته وکړی، او دا سم کار دی!

## ښوونځی ته رارسیدل

د ښوونکو سره د زده کوونکو په قطار ودرولو کی مرسته وکړئ، د بس څخه د ښکته کیدلو په وخت کې زده کوونکی شمیرل، د بس د حاضرۍ جدول وګورئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې د زده کوونکو شمیر پوره دی، یا ټولګی ته یې پیاده بوځی. ډیری ښوونځی د زده کوونکو د موټر سپرلی هم لری، او رضاکاران باید د والدینو څخه د زده کوونکو په سپارلو کی مرسته وکړي او له ټولګی سره یې په یو قطار کی ودرولو کی هم مرسته وکړي. وروسته، د زده کوونکو سره د هغوي د بکسونو په ځوړندولو او فولډرونو/دوسیو یا نوټونو په راټولولو کې مرسته وکړئ.

## د سهار جوړ پخیر/ستړی مشی

زده کوونکی د سهار ستړی مشی / جوړ پخیر کوي. هر ماشوم د ستړی مشی لپاره د پنجه کولو، د لاس ورکولو، غیږی ورکولو او داسې نور وغیره انتخاب لری. د جوړ پخیر ویونکی سره مرسته وکړئ یا اجازه ورکړئ چې تاسو ته مختلف ډول ستړی مشی ویل ننداره کړي. ماشومان د ملاقات کوونکو او رضاکارانو سره هم جوړ پخیر کول خوښوي!

## د دایری جوړولو وخت

د ماشومانو سره مرسته وکړی چې د دایری په شکل ځان جوړ کړي. ډیری وختونه ټولګی دا وخت د سهار پیغام ورکولو، د ورځې درس په اړه خبری کولو، موسیقی او حرکتی فعالیت، یا د سهار خواړو لپاره د لاس مینځلو نظم جوړولو کی مرستی لپاره کاروي.

## د لاسونو مینځل

ډاډ رامنیځته کړئ چې د لاس مینځلو په ځای کی چوکی شتون ولري، کاغذی دستمال پرې شوی وی یا ماشومان ورته لاسرسی ومونډلی شی، د زده کوونکو د لاس مینځلو قطار وڅارئ، یا د ماشومانو سره د اوبو په چالانو / بندولو کې مرسته وکړئ. ډاډ رامینځته کړي چی ماشومان خپل لاسونه مینځی کله چې دوی له بهر څخه راځی، له ډوډۍ خوړولو مخکې او له تشناب کارولو څخه وروسته. د لاسونو مینځلو پروسس په لاندی شکل دی:

1. په ګرمو اوبو لاسونه لوندول
2. صابون کارول
3. کف ورکول او مخل (د کلیزی سندرې ویلو مودی په اندازه)
4. په ښه توګه یی مینځل
5. لاسونه وچول



## د خواړو وخت

له کفټریا څخه د خواړو د ګاډی په وړولو کې مرسته وکړئ او کله چې خواړه پای ته رسیږئ، ګاډی بیرته وړل. په ټولګی کې:

- د خواړو خوړولو څخه مخکې او وروسته د میزونو په پاکولو کې مرسته وکړئ.
- دستکشې واغوندئ او د هر میز لپاره په کاسه کې خواړه کیږدئ.
- د ټولګی د مرسته کوونکی سره د (ماشومانو لپاره د دستمالونو، قابونو، د خوړلو لوښی او نچو (د څښلو لپاره نری پایپ) په برابرولو) کی مرسته وکړئ.
- کله چې د ماشومانو سره په میز ناست یاست، له ماشومانو سره خبرې وکړئ. دا ډول پوښتنې وکړئ لکه "ستاسو ګازرې څه رنګ لري؟" او "کله یی چې ژوئ دا کلکی دئ او که نرمی؟" یا دا پوښتنه وکړئ چې په ټولګی کې یی چېرته لوبې وکړئ.
- ماشومانو ته د شیدې یا نورو خوراکی توکو د پرانیستلو لارښوونه وکړئ، ورته ننداره کړئ چی څرنګ یی باید تر سره کړی او هغوی ته اجازه ورکړئ چې هغوي یی هم تر سره کړی.
- د ښوونکو سره د پاک کاری په وخت کی په نظارت کولو کې مرسته وکړئ

ماشومان هڅول کیږی چی خواړه وخوري مګر هیڅکله هم نه اړ ایستل کیږی. د ډیسپلین کولو په موخه د ماشومانو د خواړو مخه نه نیول کیږي.

## لوست

یو ماشوم یا یوی کوچنی ډلی ته په لوړ غږ سره کتاب ولولئ. ماشومانو ته اجازه ورکړئ چې پخپله کتاب غوره کړی او د کیسې په اړه پوښتنې وکړی کله یی چې تاسو لولئ. ورو ورو ولولئ، انځورونه ورته وښایئ، او د کلمو یا ټکو د لوستلو په وخت کې ورته اشاره وکړئ. د ساده یا کم عقل کیدو څخه مه وېریږئ! ماشومان هغه وخت ډیر خوشحالیږي کله چې ورته تاسو په مختلفو غږونو سره لولئ یا د کیسی تمثیل کوئ.

د ګڼو ژبو کتابونو په اړه پوښتنه وکړئ او ماشومانو ته په خپله ژبه کی کتابونه ولولئ، که شتون ولری. که چیرته په ټولګی کې داسې ماشومان وی چې ستاسو په ژبه خبرې کوی، هغوی ته وویاست چې یو کتاب غوره کړی او ورته په خپله ژبه کی کیسه ولولئ.



### د غاښونو برس کول

ماشومان هره ورځ په ټولګی کې خپل غاښونه برس کوی. ماشومانو سره د غاښونو برس په برابرولو او یا هم د غاښونو کریم اچولو کی مرسته وکړئ. د غاښونو د برس کولو په وخت کی، ښوونکی یوه سندره چالانوي او ماشومانو ته ور زده کوي چې څرنګ باید خپل ټول غاښونه پاک کړي. ماشومان کولی شي خپله خوله کنګال کړي کله چې خپل غاښونه پاک کړي. د غاښونو برس په سنمبالولو کي ورسره مرسته وکړئ.

### لوی ګروپی فعالیتونه

د لوی ګروپي فعالیتونو پر مهال، ماشومان ګډا کوي، حرکتونه تر سره کوی، او د ځان نرمایش کوی. ماشومان وهڅوئ چې پکی برخه واخلی او ګډون وکړی. رضاکاران کولی شی چې د لویو ګروپی فعالیتونو لکه یوګا یا د نور آرام کوونکی فعالیتونو رهبری وکړی، د یوې کیسې تمثیل وکړی، یا یوه نوې سندره زده کړی.

### کوچنی ګروپی فعالیتونه

د کوچنی ګروپی فعالیتونو پر مهال، ماشومان په میزونو کی د کوچنی ګروپونو په شکل کښېنی. هغوي یو مشخص فعالیت تر سره کوی، چې د ښوونکو د ډلی لخوا رهبری کیږی. شمیر کول، ترتیب کی کول، د نومونو لیکلو تمرین تر سره کول، او لوبې کول یا معما حل کول ټول د کوچنی ډلو فعالیتونه دی. له ماشومانو ډک د یو میز رهبری کړئ، د فعالیت تر سره کولو په وخت کي ورځخه پوښتني وکړئ.

### د زده کړې مرکزونه/ځایونه

په عمومی توګه د زده کړې مرکز په ټولګی کی دننه یو ټاکل شوي ځاي وي چې زده کوونکو ته د تمرین کولو، وده موندلو او د هغوي زده کړې پراخه کولو لپاره پرجوش او په زړه پوري فعالیتونه وړاندی کوي.

د زده کړی مرکزونه د عملی فعالیتونو د تر سره کولو توکو، هنری درسی موادو، کتابونو او نورو ښوونیزو وسائلو څخه ډک وی. هڅه وکړئ چې په هره برخه کې د ماشومانو سره په مرسته کولو کی یو څه وخت تیر کړئ او زده کړو ته د هڅولو لپاره ورسره خبرې وکړئ.

د هنر زده کولو مرکز/ځائ



په هنر کی، رنګ کول، د رنګو یا د اوبو رنګی کارول، د ختو د لوبو توکی، سریش، پرې کول، یا لیکل شامل وی. د ماشوم سره د یو کار یا پروژی په پیل کولو کی د مرستی کولو په موخه، داسی وویاست "ته څه کول غواړئ؟"

داډ ترلاسه کړئ چې د ماشومانو نومونه د پروژی په سر کی لیکلی وي.

هر هغه څه چې ماشوم یې په خپل سر تر سره کوي، وی منئ. په یاد ولرئ چې هر یو کس په دی اړه مختلف نظر لری چې څیزونه باید څرنګ "ښکاره" شي. تاسو کولی شئ دا ډول څیزونه وویاست، لکه: "ما ته د خپل انځور په اړه وویاست" یا "تا په خپل انځور کې سور رنګ ډیر کارولی دی. "آیا ستا سور رنګ خوښیږی؟"

## بلاک سنټر یا د بلاکونو مرکز/ځای

د بلاکونو لوبه ډیری مهارتونه هڅوی. ماشومان برجونه ، ښارونه ، کورونه او ډیری نور څیزونه جوړوی. کښېنئ او د بلاکونو سره لوبې وکړئ او د ماشومانو سره خبری وکړئ چی هغوي څه جوړوي.

ستاسو د پوښتنو له لارې هغوی د ستونځو حل کونه، د ریاضی مهارتونه او د ژبې مهارتونه زده کوی.

- د دا ډول پوښتنه کولو هڅه وکړئ چې "ستاسو برج څومره لوی دی؟" "اوږد بلاک چېرته دی؟" یا "تاسو دا څرنګ جوړ کړ؟"
- "آیا د لاری ډکول به پنځه بلاکونه یا درې بلاکونه ونیسی؟" یا "کوم یو برج ډیر بلاکونه لری؟"
- "آیا دا بلاک به په کوچنی بلاکونو باندی سم توازن ولري؟"

## د کتابونو مرکز یا ځای

یو ماشوم یا یوی کوچنی ډلی ته په لوړ غږ سره کتاب ولولئ. ماشومانو ته اجازه ورکړئ چې پخپله کتاب غوره کړی او د کیسې په اړه پوښتنې وکړی کله یې چې تاسو لولئ.

ورو ورو ولولئ، انځورونه ورته وښایئ، او د کلمو یا ټکو د لوستلو په وخت کې ورته اشاره وکړئ. د ساده یا کم عقل کیدو څخه مه وېرېږئ! ماشومان دی کار سره ډیره مینه لري کله چې هغوي په مختلفو غږونو لوست کوي یا د یوی کیسی تمثیل کوي.

## د ډراماتیکی رول لوبولو مرکز

په ډراماتیکی لوبو یا "هوس کیپینګ یا کور ساتنه" کې ماشومان د ډرامی نقش یا رول لوبوي. هغوي د مور یا پلار کیدلو، د سودا پلورنځی، رستورانت یا د ویټنانو د سالون لرلو رول لوبوي.

د رول لوبولو او خبرو اترو له لارې، ماشومان مرسته کونه او د ژوند ډیری مهارتونه زده کوی (لکه څرنګ باید صفایی وشی یا ټلیفون ته ځواب وو ویل شي). دا یو "بوخت یا مصروف" ځاي وي. ماشومان خوښوی چې تاسو ورسره په لوبو کې ګډون وکړئ.



## د ټولګی څخه بهر وخت



د ټولګی څخه بهر وخت پرمهال، ماشومانو سره د خوندیتوب د قوانینو په مشاهده کولو کی مرسته وکړئ. د درې ټایره سائکلونو چلول اداره کړئ او له یو بل سره یی د ټکر کولو مخه ونیسئ. ماشومانو سره د لوبو توکي یو له بله سره په شریکولو او یو بل ته نوبت ورکولو کی مرسته وکړئ.

له پورته ځائ څخه د ښویدو او د پورته ختو فعالیتونه له نږدې څخه وڅارئ. په تنظیم شویو لوبو کې ګډون وکړئ. د ښوونکی سره د ماشومانو قطار جوړولو او په شمیرلو کې مرسته وکړئ.

## د شګو/ اوبو میز یا ځائ

دی ځاي کی ماشومان هڅول کیږي چې د مایعاتو او جامدو اندازه کول او اچول یا تویول زده کړي. میز د شګو، اوبو، مصنوعی واورې یا نورو موادو څخه ډکولی شئ او ډیری وختونه بیلچی، سطلونه او د اندازه کولو نور وسائل لری.



د ماشومانو سره په ګډه کار وکړئ ترڅو شکلونه او جوړښتونه وپیژنئ.
ورڅخه وپوښتئ چې "په اړه یی څه ډول احساس لري؟"

د ماشومانو سره د هغه څه په اړه خبرې وکړئ چې هغوي یې تر سره کوی.
ورڅخه وپوښتئ "آیا د کوچنی سطل اوبه به لوی سطل ډک کړی؟"

د ماشومانو سره مرسته وکړئ چې خبرې وکړي او ژبه وکاروی.
ورڅخه وپوښتئ چې "زه وینم ته دا تاوه وي. ما ته یی په اړه ووایه چې ته څه جوړوئ؟"

## د سائنس مرکز یا ځای

دلته ماشومان دا زده کوی چې ځیزونه څرنګ کار کوی، حرکت کوی، احساس لری او سره یوځائ نښلی. هغوي د مختلف ډول حیواناتو په اړه زده کوي او دا چې ځیزونه څرنګ وده مومي. تاسو ممکن د اونی پاني، کتابونه، لښتي، حیوانات، ماهیان (کبان)، مقناطیسونه، ترازو، ترمامیترونه، دوربینونه او د موسیقی الات یا وسایل وګورئ.


تاسو ممکن د ماشومانو یوی ډلی یا یوازی له یو ماشوم سره کار وکړئ. ماشومانو سره مرسته وکړئ چې وپلټی چې ځیزونه څرنګ کار کوی، ځیزونه څومره وزن لری، او ځیزونه  څومره اوږد دی.

## انفرادي زده کړه

ماشومان له بیلابیلو لارو او په بیلابیل صورت سره زده کړه کوی. ښوونکی د ماشومانو لپاره انفرادی موخی ټاکی، ترڅو هغوی سره د وړکتون لپاره په مهارتونو باندې تسلط تر لاسه کولو کی مرسته وکړي.

د ارزونې د پروسې یوه برخه دا ده چې هغه څخه چی ماشومان یی د ښوونځی ورځی په بهیر کی زده کوي، نوټ کړي. رضاکاران کولی شی د ماشومانو د انځورونو په اخیستلو سره، په دی کار کی مرسته وکړی څه وخت چې ماشومان مشخص کارونه بشپړوي یا د ټولګی فعالیتونه ترسره کوی.

- د ښوونکی سره د مشخصو مهارتونو په اړه خبرې وکړئ چې تاسو یې باید په لټه کې یاست، لکه رنګونه یا توری پېژندل.
- د ټولګی ټابلېټ یا د ټولګی د کمرې په کارولو سره، د ماشومانو انځورونه واخلئ کله چې هغوی دندی بشپړوی.
- ښوونکی ممکن د یو ځانګړی فعالیت د تر سره کولو په وخت کی د عکسونو اخیستلو مرسته وغواړی لکه د کدو سره کار کول، د ټولګی ساحوي ورځ، یا تخم کرل.
- رضاکاران کولی شي د یاداښتونو لیکلو لپاره د کتابچی څخه ګټه پورته کړي، د بیلګې په توګه:



  - د دوو ماشومانو انځور چې د بلاکونو سره لوبې کوی. نوټ: هغوي د بلاکونو سره په ګډه لوبی وکړی او په نوبت سره یې ویجاړی کړي او بیرته یی ورغولی. یا هغوي تر اتو پورې حساب تر سره کړ کله یی چې خپل برجونه جوړ کړل
  - خپل نوم لیکلو په وخت کی د ماشوم انځور. نوټ: هغه وکولای شو چې د تعقیبولو له لاری لومړئ توری یا حروف ولیکئ.
  - د یو ماشوم انځور چې د ډوډۍ خوړولو پر مهال نوی خواړه آزمایې. نوټ: هغې خپله ټوله تازه مېوې وخوړله او له غوښې څخه یی یو مړی وکړه.

# ځانګړي پاملرنی

- ټولګی ته د راتګ څخه مخکې خپل ماشوم سره خبرې وکړئ ترڅو هغوی په دی خبره پوه شي چې تاسو به په ټولګی کې د **ټولو** ماشومانو سره کار کوئ. ځینې وختونه، ستاسو ماشوم هیجانی کیږي ځکه چې تاسو هلته شتون لرئ مګر کیدای شی بد چلند وکړی یا وژاړي. که څه هم دا یو ستونزمن کار دی، خو تاسو باید د خپل ماشوم چلند له پامه وغورځوئ، وی نه رټئ، او ارامه واوسئ. ښوونکی ته اجازه ورکړئ چی حالت سنمبال کړی. مونږ ژمنه کوو، څومره زیات چې تاسو رضاکارانه چاری تر سره کړئ، ستاسو ماشوم به ورسره عیار شي. هر ځلی چې تاسو ورڅخه لیدنه کوئ، هغوي به لا زیات راحت وي.

- ښوونکی له ټول ټولګی سره کار کوی او نشی کولی چې د رضاکار سره یوازي د هغه/هغی د ماشوم په اړه خبرې وکړی. که چیرته تاسو د خپل ماشوم د زده کړې په اړه پوښتنې لرئ نو د ټولګی له پیل کیدو څخه مخکی یا وروسته له ښوونکی څخه وخت وغواړئ.

- نظم و ضبط برابر د ښوونکی مسؤلیت دی پرته له دی که له تاسو مرسته وغوښتنه شی یا که بیړنی حالت رامینځته شي. ماشومان او د ټولګی معمول یوازی ښوونکی ښه پیژنی. ماشومان ډیری وخت د پام ترلاسه کولو لپاره بد چلند کوی، کوښښ وکړئ چې کوچنی پیښي له پامه وغورځوی، او د ښوونکو ډله د هر ډول اندیښنو څخه خبر کړی. د نظم او ضبط جوړولو په موخه ماشومان باید هیڅکله هم ونه وهل شی، ونه ټکول شی، چیغې پری ونه وهل شی، یا کش نکړل شي.

- په یاد ولرئ چې زمونږ د پری سکول پروګرامونه معلولیت لرونکی ماشومان هم لري او تاسو به تل نه پوهیږئ چې هغه ماشومان څوک دی. مهربانی وکړئ هر ماشوم ته په ځانګړي ډول درناوی ولرئ.

- د رضاکار په توګه د چارو تر سره کولو تجربی کولی شی تاسو په ټولنه کې د ورته دندو لپاره چمتو کړی (لکه د ماشومانو پاملرنه کوونکی، د ښوونکی مرستیال، متبادل یا بدیل ښوونکی یا د کافټریا کارکوونکی). که اړتیا ورته لرئ، د کورنۍ د خدمتونو کارکوونکی څخه وغواړئ چې د رضاکارانه چارو ساعتونه درته چاپ کړي. په یاد ولرئ، که څه هم ښوونکی د رضاکارانو د راتګ وختونو پاڼې د هرې میاشتې په پاۍ کې سپاری، په سیستم کې د رضاکار د چارو ساعتونه یا وخت یو میاشت وروسته ښکاره کیږي.

PWCS

PRINCE WILLIAM COUNTY PUBLIC SCHOOLS

LAUNCHING THRIVING FUTURES